كله دې چې هغه کسان وليدل چې لدې آيتونو څخه د متشابهاتو پسې ګرځي نو همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی يې يادونه کړې ده نو ځان ترې وساتئ

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوست: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ، وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ، وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} [آل عمران: 7]. يعنې : (دی هغه ذات دی چې په تا باندې يې کتاب نازل کړی دی، په ده کې ځينې محکم (ښکاره مراد والا) آيتونه دي؛ چې هغه د کتاب اصل دي، نور يې متشابهات (پټ مراد والا) دي، نو هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې کور والی دی؛ نو هغوی په هغو (آيتونو) پسې کېږي چې په دې (قرآن) کې متشابه (پټ مراد والا) دي، د فتنې لټولو لپاره او د هغو د مراد معلومولو لپاره، حال دا چې د هغوی په تاويل (مراد) باندې نه پوهېږي مګر الله، او هغه کسان چې په علم کې پاخه دي؛ هغوی وايي: مونږ پر ده ايمان راوړی دی، ټول (محکم او متشابه آيتونه)زمونږ د رب له جانبه دي، او پند نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان). عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: « كله دې چې هغه کسان وليدل چې لدې آيتونو څخه د متشابهاتو پسې ګرځي نو همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی يې يادونه کړې ده نو ځان ترې وساتئ».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم دا آيت ولوست: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} چې پدې کې الله پاک خبر ورکوي چې دی هغه ذات دی چې پر خپل پيغمبر يې قرآن نازل کړی، له هغه څخه ځينې د څرګند دلالت لرونکي آيتونه دي چې حکمونه يې معلوم دي، هيڅ ناڅرګندوالی پکې نشته، نو دا د کتاب اصل او مرجع دی، او د اختلاف پر مهال ورته رجوع کيږي، او داسې نور آيتونه هم شته چې له يو څخه زياتې معناوې لري، چې معنا يې پر ځينو خلکو ګډوډيږي او يا ګمان کوي چې د هغه او بل آيت تر منځ تضاد دی، بيا الله تعالی لدې آيتونو سره د خلکو تعامل په ډاګه کړ، نو د هغه چا په زړونو کې چې له حق څخه کوروالی شتون ولري، هغوی محکم آيتونه پريږدي او احتمالي متشابه آيتونو باندې عمل کوي، پدې سره غواړي چې شکونه او شبهې راوپاروي او خلک ګمراه کړي او پدې سره غواړي چې آيتونه د خپلې خوښې پر اساس تاويل کړي، او هغه کسان چې په علم کې ثابت دي، نو هغوی پر دې متشابهاتو پوهيږي او محکمو آيتونو ته يې راجع کوي او ايمان پرې لري چې دا د الله پاک له لورې دي، او شوني نده چې تعارض او ګډوډي دې سره ولري، مګر دا هغه څه دي چې پدې يوازې د سالم ذهن لرونکي خلک پند اخلي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم د مؤمنانو مور عايشې رضی الله عنها ته وفرمايل چې: کله يې دا ډول خلک وليدل چې د متشابهاتو پسې ګرځېدل نو يقينا همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی يې پدې وينا کې يادونه کړې ده چې فرمايي: {فأما الذين في قلوبهم زيغ} (يعني او هغه کسان چې په زړونو کې يې کوروالی دی) نو له هغوی څخه ځان وساتئ او غور ورته مه نيسئ.


النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY


لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee